د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست



- د امارتي کمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې قانون د انفاذ په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی فرمان
- د ټاپي پروژې له کاري بهیر څخه لیدنه
- د ازادو اقتصادي زونونو نړیوال کانګرس او د افغانستان اقتصادي فرصتونه
- NATIONAL MINERALS POLICY: VALUE, NECESSITY, AND OBJECTIVES

# اباداي
میاشتنۍ

۷ ګڼه
تله - ۱۴۰۴ ل.ل
پرلهپسې ۲۲مه ګڼه

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

"

په افغانستان کې په لویو او مهمو پروژو کې پانګونه ټولو هېوادونو او پانګوالو ته یو واضح پیغام ورکوي چې په دغه هېواد کې امنیت تأمین او د هر ډول پانګونو لپاره شرایط مساعد دي. د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له مخې د ممکنه اسانتیاوو په برابرولو سره ټولو پانګوالو ته ښه راغلاست وایي او ملاتړ یې کوي. نو د تېر په څېر یو ځل بیا په ټولو کورنیو او بهرنیو تجارانو او پانګوالو غږ کوم چې په افغانســـتان کې پانګونه وکړي او د دې هېواد له نسبي مزیتونو ګټه واخلي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

Deputy PM for Economic Affairs Office

د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

میاشتنۍ

# ابادي

گڼه ۷

تله - ۱۴۰۴ ل ـ ل

پرله‌پسې ۲۲مه گڼه

| | |
|---|---|
| **د امتياز خاوند:** | د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبيح الله ناصر، امان الله حنيفي<br>فضل ولي شيراني او نجيب الله مايار |
| **مسئول مدير:** | مولوي خالقداد تقي |
| **ډيزاينر:** | عطاءالرحمن سعيد |
| **فوټوژورناليست** | حجت الله قاضي زاده |



مرمرينه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاوير مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلیـکـنـه ۱

د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې قانون ۲ - ۲۱

لیدنې کتنې، د اقتصادي پروژو د پرمختګ راپورونه او انفوګرافیکونه ۲۲ - ۳۱

د ټاپي پروژې له کاري بهیر څخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال لیدنه ۳۲ - ۳۵

د اقتصـادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۶ - ۴۵

English Section 1 - 3



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي او د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربانقلي بردي محمدوف او ورسره مل پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې له کاري بهیر لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب ټاپي پروژه د سیمه ییزې همکارۍ، اقتصادي یووالي او ګډې سوکالۍ رامنځته کېدو لپاره مهمه وبلله. د ترکمنستان ملي رهبر بیا وویل چې ټاپي پروژه به د سیمې په اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي. ټاپي پروژه د افغانستان په ګډون د ترکمنستان، هند او پاکستان د طبیعي ګازو ګډه نللیکه ده چې د منځنۍ او سویلي آسیا لپاره ستراتېژیک او اقتصادي ارزښت ګڼل کېږي. ټاپي پروژه نه یوازې اقتصادي اړخ لري، بلکې د دې پروژې سیاسي بعد هم د پام وړ دی. ټاپي پروژه د خپل ځانګړي جغرافیوي موقعیت له مخې د څلورو هېوادونو، ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان ترمنځ د همکارۍ او پیوستون زمینه برابروي. دا همکاري په داسې شرایطو کې کیږي چې سیمه د نړیوالو پراختیایي اړیکو پراختیا او د سیاسي لانجو کمولو ته ډېره اړتیا لري. له سیاسي اړخه ټاپي څلورو واړو هېوادونو ته دا فرصت ورکوي چې په دیپلوماسۍ او ګډې همکارۍ سره د سیمې امنیت ښه کړي. پر دې سربېره افغانستان د یوه ترانزیټي هېواد په توګه په دغه پروژه کې کلیدي رول لري او دا نه یوازې د دغه هېواد دیپلوماتیک دریځ پیاوړی کوي، بلکې د سیمې له اوږد مهاله سولې او ثبات سره هم مرسته کوي. د ټاپي پروژې دغه ستراتیژیک اهمیت ته په کتو اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو سره سم له هر څه وړاندې هغو برخو ته پوره پام ور واړاوه چې پر مټ یې کولای شي په سیاسي او اقتصادي دواړو برخو کې لاسته راوړنې ولري او له دې لارې وکولای شي، سیاسي او اقتصادي پرمختګونه تضمین کړي. په دې کارونو کې یو هم د ټاپي پروژې د بیا پیل هڅې وې چې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري. له نیکه مرغه د افغانستان په خاوره کې یې عملي چارې د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري په میاشت کې پیل شوې. اوسمهال یې ۱۴ کیلومتره نللیکه غځېدلې او په پاتې برخه یې هم په چټکۍ سره کار روان دی. له بل لوري ټاپي پروژه د انرژۍ د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د ذیدخلو هېوادونو لپاره زیات ارزښت لري. دا هېوادونه انرژۍ ته زیاته اړتیا لري او د ترکمنستان طبیعي ګاز کولی شي د دوی د بریښنا تولید او صنعتي فعالیتونو لپاره یو باوري او نسبتاً ارزانه سرچینه واوسي. همداراز افغانستان به هم د ګازو په ترلاسه کولو سره وکولای شي، د انرژۍ په برخه کې ستونزې لرې او خپل صنعت ته وده ورکړي. د دې ترځنګ به د ټاپي پروژې په عملي کېدو سره، نه یوازې په افغانستان کې د ګازي انرژۍ ستونزه هواره شي، بلکې دا به د منځنۍ او سویلي اسیا هېوادونو ته د یوه اقتصادي دهلیز د پرانیستلو له پاره هم لاره هواره کړي. د دې چارو په ترسره کېدو به نه یوازې افغانستان په سیاسي لحاظ خپل موقف قوي کړي، بلکې اقتصادي وده به یې هم ګړندۍ او اقتصاد به یې د خپلواکۍ په لور ګامونه پورته کړي.



# دامارتي ځمکو

## د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې

# دورکړې قانون

### او د پانګونې بين الوزارتي کمېټې د غونډو راپورونه

# د امارتي څمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې قانون د انفاذ په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی

# فرمان

**لومړۍ ماده:**

د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې قانون په (١) مقدمه، (۴) بابونو، (٦) فصلونو او (٣٨) مادو کې توشېح کوم.

**دوهمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ياد قانون له متن سره يوځای دي په رسمي جريده کې خپور شي.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي

هبة الله اخندزاده

# د امارتي ځمکو

## د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې

# د ورکړې قانون

د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې قانون پر یو مقدمه، څلورو بابونو، شپږ فصلونو او اته دېرش مادو مشتمل دی.

**مقدمه**

مقدمه اصطلاحګانې، د طرحو (پروژو) او کاري نقشو پلي کوونکې اداره او د تطبیق مراجع پر مادو مشتمله ده.

**اصطلاحګانې**

**لومړۍ ماده:**

(۱) په دې قانون کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې معناګانې افاده کوي:

۱ـ وېش: د دې قانون د حکمونو مطابق مستحقو اشخاصو ته د امارتي ځمکې د نمرې په واک کې ورکول.

۲ـ تملیک: د دې قانون د حکمونو مطابق د امارتي ځمکې د نمرې په ملکیت کې ورکول.

۳ـ خرڅول: د دې قانون د حکمونو مطابق مستحق شخص ته د تعیین شوي قېمت په مقابل کې د امارتي ځمکې د نمرې په ملکیت کې ورکول.

۴ـ د امارتي ځمکې نمره: د هغه ټوټه ځمکې څخه عبارت ده چې په ښاري طرحو (پروژو) کې د سرپناه او سوداګریزو فعالیتونو په موخه شخص ته وېشل کېږي.

۵ ـ استملاک: د عام المنفعه کارونو (پروژو) د پلي کولو په موخه، د عادلانه بدل په مقابل کې امارت ته د شخص د ملکیت لېږدول دي.

۶ـ سوداګریزه ساحه: هغه ځمکې چې د سوداګریزو کړنو لپاره تخصیص شوي وي.

۷ـ تصرف کوونکی: هغه شخص دی چې د اعتبار وړ سند په واک کې ونه لري، ولې ساحه یې په خپل تصرف کې اخیستې وي.

۸ـ د ملکیت تثبیت: هغه عملیه ده، چې د هغې په ذریعه ملکیت د کمي او کیفي له پلوه تعریفېږي.

(۲) په دې قانون کې هغه اصطلاحګانې چې د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد قانون او نورو نافذه قوانینو کې راغلي وي همغه معناګانې افاده کوي.

## د طرحو او کاري نقشو پلي کوونکې اداره

**دوهمه ماده:**

(۱) لومړۍ او دوهمه درجه ښـاروالي ګانـې د اړوندو ښارونو په محدوده کې د دې قانون د حکمونو مطابق د طرحو او کاري نقشـو د پلي او د امارتي ځمکو د نمرو د وېش مسؤلیت لري.

(۲) د دې قانـون له حکمونو سره سـم د کور او ښـار جوړولو وزارت په ډېرى ښارونو کې، په خپلو اړوندو سیمو او طرحو کې د ځمکې بیلوالي ته په کتو سره د طرحو او کاري نقشـو د تطبیق او د امارتي ځمکو د نمرو د وېش مسؤلیت لري.

## د تطبیق مراجع

**دریمه ماده:**

د کور او ښـار جوړولو وزارت، ښاروالی ګانې او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضي اداره هر یو د خپلو وظیفوي مکلفیتونو سره سم د نورو ذیربطو ادارو سره په همغږۍ د دې قانون د پلي کولو مسؤلیت لري.

## لومړی باب

## د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو وېش، خرڅ او تملیک

لومړی باب په لاندي دوو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د هســتوګنیزو او سوداګریزو نمرو قیمت ټاکل او د ځمکو د قیمت ټاکنې لایحې جوړول.

دوهم فصل: د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو وېشل.

## لومړی فصل

### د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو قیمت ټاکل او د ځمکو د قیمت ټاکنې لایحې جوړول

د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو د قیمتونو ټاکنه

**څلورمه ماده:**

د ځمکو د قیمت ټاکلو د منظور شوې لایحې سره سم، د هســتوګنیزو او ســوداګریزو نمرو قیمتونه تثبیت او ټاکل کېږي.

### د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو قیمت ټاکنې لایحه

**پنځمه ماده:**

(۱) د ځمکي د وېش اداره او هغه اداره یا ښاروالي چې د ځمکو د قیمت ټاکلو لایحه ونه لري، مکلفه ده چې د کور او ښار جوړولو وزارت د ترتیب شوي معیارونو سره سم په اړوندو ســاحو کې د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو د قیمت ټاکنې لایحه ترتیب، طی مراحل او پلي کړي.

(۲) د ځمکو د وېش اداره مکلفه ده چې د ښاري طرحو (پروژو) د هســتوګنیزو او ســوداګریزو نمرو تمام شوي قیمت تثبیت په موخه د ځمکې د اصل قیمت څخه پرته د طرحــو د زیربنــاوو د مصارفو په نظر کــې نیولو سره وسنجوي.

(۳) د ځمکــې د قیمــت ټاکلــو لایحــه د عالیقــدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له منظورۍ څخه وروسته پلي کېږي.

## دوهم فصل

## د هستوګنیزو او سوداګریزو نمرو وېشل

### د استملاکي ملکیتونو په بدل کې د ځمکې د نمرې وېشل

**شپږمه ماده:**

شـخص ته چې د هغه ملکیت د عامــه المنفعه طرحو (پروژو) لاندې راغلی او استملاک شوی وي د ځمکې یو نمره لاندې حالاتو ته په کتو سره وېشل کېږي.

(۱) په هغه صورت کې چې د استملاک لاندې ملکیت ســوداګریزه ســاحه وي، نو قیمت یې د منظور شــوې لایحې په نظر کې نیولو سره تثبیت او بدله یې د همغې طرحې (پروژې) د ځانګړي قیمت په بدل کې په ښاري طرحه کې سوداګریزه نمره ورته ورکول کېږي.

(۲)په هغه صورت کې چې د استملاک لاندې ځمکه په غیر ســوداګریزه ســاحه کې وي او مساحت یې د یوې بســوې څخه زیات وي، د ملکیت د بدلې له اخیســتو څخه وروســته په امتیازي ډول په ښــاري طرحه کې د هماغې طرحې د ځانګړي شــوي قیمت په بدل د یوې نمرې د ورکړې مستحق ګڼل کېږي.

(۳)په هغه صورت کې چې د استملاک لاندې ځمکه په غیر سوداګریزه ساحه کې وي او د هغه مساحت له لس بسوو څخه زیات وي، د هرو لس بسوو په وړاندې مالک یې وروسته له بدلې اخیســتو څخه په امتیازي ډول په ښــاري طرحه کې د هماغې طرحې د ځانګړي شــوي قیمت په بدل کې د یوې نمرې د ورکړې مستحق ګڼل کېــږي، په دې شرط چې د نمرو مجموعي اندازه یې له پنځه نمرو ځمکو څخه زیاته نه شي.

### د مستحقینو لپاره هستوګنیزې ځمکې د نمرې وېش

**اوومه ماده:**

(۱) مستحقو اشخاصو ته امارتي هستوګنیزې نمرې په هغـــه صورت کې وېشـــل کېږي چې اړونـــد مراجع یې تصدیق وکړي چې نوموړی شخص په اړونده ښار کې د خپل، میرمنې او صغیر اولاد په نوم د کور، هســـتوګنیز اپارتمان او یا ځمکې نه لرونکی دی.

(۲)که د مستحقو داوطلبو اشــخاصو شمېر د وېش وړ هســـتوګنیزو ځمکو څخه زیـــات وي، د ځمکې د نمرو وېش د قرعه اندازۍ په طریقه ترسره کېږي.

### د سوداګریزو ځمکو د نمرو وېش

**اتمه ماده:**

(۱) د ســـوداګریزو ځمکو نمرې د ښاري پلان سره سم اشـــخاصو، اصنافو، شرکتونو ته چـــې د دې ډول نمرو غوښـــتونکي وي د اړونده اداري له خوا د منظور شوي لایحې د ټاکل شوي قیمت مطابق د ازادې داوطلبۍ له لارې طي مراحل او وېشل کیږي.

(۲) ګټونکی داوطلب مکلف دی، د سوداګریزې ځمکې بشپړ قیمت چې د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوی د درې میاشـــتو پـــه موده کـــې د داوطلبـــۍ د عقد د منظورۍ د نېټې څخه وروسته د اړونده ادارې حساب ته تحویل کړي.

## د هستوګنیزو او سوداګریزو ځمکو د نمرو تسلیمي

**نهمه ماده:**

اړونده اداره مکلفه ده، نهایتاً د درې میاشتو په موده کې د هســـتوګنیزو او سوداګریزو ځمکو نمرې مستحقو او یا اخیســـتونکو (ګټونکي داوطلب) ته تســـلیم کړي او د ودانۍ جوړولو اجازه دي ورکړي.

## د ملکیت د سند او قبالې وېش

**لسمه ماده:**

(۱) د اړنده ادارې له خوا مستحقو، اخیستونکو (ګټونکي داوطلب) او یا د هغوی شرعي وکیل ته د ځمکې د قیمت د تحویلۍ څخه وروســـته د ځمکې د نمرې موقت سند ووېشل شي.

(۲) د محکمې له خوا چـــې د ځمکې نمره د هغوی په حوزوي صلاحیت کې شتون ولري د تائید شوي نقشې سره ســـم د نمره ځمکې قطعي سند (قباله) د ودانۍ د ۳۰ ســـلنې جوړونې څخه وروسته ترتیب او په لنډ وخت کې وېشل کیږي.

(۳) د نافذه تقنیني اســـنادو سره سم مستحق شخص، اخیستونکو (ګټونکي داوطلب) او یا د هغوی شرعي وکیل ته د ملکیت قطعي سند (قباله) په واک کې ورکول کیږي.

## د هستوګنیزو او سوداګریزو ځمکو د نمرو د استرداد حالتونه

**یوولسمه ماده:**

(۱) د هستوګنیزو  او سوداګریزو ځمکو د نمرو د خرڅ او وېش عقد په لاندې حالاتو کې فسخ او د ځمکې نمره مسترد کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې مســـتحق، اخیستونکی یا د هغوی شرعي وکیل هستوګنیزه د ځمکې نمره د ځمکو د وېش هیئت د پرېکړې د نېټې څخه تر شـــپږو میاشـــتو پورې ترلاسه کړې نه وي.

۲ـ په هغه صورت کې چې اخیستونکي یا د هغه شرعي وکیل، د سوداګریزې ځمکې د نمرې قیمت د داوطلبۍ د منظورۍ د نېټې څخه تر درو میاشـــتو پورې د اړونده ادارې په حساب کې تحویل نه کړي.

۳ـ په هغه صورت کې چې مســـتحق یـــا د هغه شرعي وکیل، د ودانۍ د اجازې اخیستو او د ځمکې د تسلیمۍ د نېټې څخه تـــر د درو کلونو څخه په زیاته موده کې د هســـتوګنیزې ځمکې د نمرې د ودانۍ ۳۰ سلنه چارې بشپړې کړې نه وي.

۴ـ په هغه صورت کې چې د سوداګریزې ځمکې د نمرې اخیستونکي یا د هغه شرعي وکیل، د ټاکلې مودې سره سم د ودانۍ په جوړولو کې درې کاله ځنډ راوړي.

۵ـ په هغه صورت کې چې اخیستونکی یا د هغه شرعي وکیل د ځمکې د نمرې د وېش او تسلیمۍ د نېټې څخه تر شپږو میاشـــتو پورې د خپلې ودانۍ نقشې د ودانیزو چارو د اجازې په موخه اړونده ادارې ته و نه سپاري.

٦ـ په هغه صورت کې چې اخیستونکی یا د هغه شرعي وکیل د هستوګنیزو یا سوداګریزو نمرو ودانیزې چارې د نمرې د ســـاختمان اجازې او تسلیمۍ د نېټې څخه تر درې یا شپږو میاشتو پورې پیل کړې نه وي.

(۲)که د دې مادې د (۱) فقرې د ۳ او ۴ جز سره سم د ځمکې نمره مسترده شي، اداره مکلفه ده چې د شخص

له خوا د تائید شوي نقشې مطابق د ترسره شوي کار قیمت محاسبه او ورکړي.

(۳)که د سوداګریزو یا هستوګنیزو یا صنعتي ځمکو نمرې مستردې شي، د ځمکې اصلي قیمت د ادارې د ۲ سلنې مصرف اخیستنې څخه وروسته اعاده کیږي.

(۴) که شخص مخکې له دې چې هستوګنیزو یا سوداګریزو ځمکو د نمرو د ترلاسه کولو څخه مخکې وفات شي، د هغه تثبیت شوی استحقاق د هغه شرعي ورثه وو ته ورکول کیږي.

## اضافه تصرف ځمکه

**دوولسمه ماده:**

(۱)که شخص د ملکیت په سند کې درج شوې اندازه ځمکې څخه اضافه ځمکه تصرف کړې او ښاري نقشه یې متضرره یا عام ضرر یې رامنځته کړی وي شخص په خپل شخصي مصرف ودانۍ تخریب او اضافه ځمکه یې له تصرف څخه وځي.

(۲) هرکله چې ددې مادې په لومړۍ فقره کې ذکر شوې اضافه تصرف شوې ځمکه ښاري نقشه یې متضرره کړې نه وي او په عام ضرر تمام شوی نه وي، په اړوند یې د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد قانون سره سم دې اجراءآت ترسره شي.

## د ځمکو د نمرو خرڅول او وېشل

**دیارلسمه ماده:**

په دې قانون کې د ذکر شوو ځمکو د نمرو خرڅول او وېشل د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان له صدور څخه وروسته ترسره کیږي.

## دوهم باب

## د استرداد شویو ځمکو وېش او خرڅ او د ځمکو وېش د هیئت اړوند حکمونه

دا باب په لاندې دوو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د استرداد شویو ځمکو وېش او خرڅ

دوهم فصل: د ځمکو د وېش د هیئت اړوند حکمونه

## لومړی فصل

## د استرداد شویو ځمکو وېش او خرڅ

## د استرداد شویو ځمکو ثبت او د ښاري کاري نقشو (پلانونو) جوړول او پلي کول

**څوارلسمه ماده:**

(۱)هغه ځمکې چې د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد کمېسیون له خوا د ښاري کاري نقشې (پلان) په محدوده کې تصفیه او تثبیت شوې وي، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ په اداره کې ثبت کیږي.

(۲) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ اداره مکلفه ده، د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ځمکې د طرحې (پروژې) پلي کوونکې ادارې ته ولیږي.

(۳)که ساحې د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد کمېسیون له خوا تصفیه او تثبیت شي او د تفصیلي کاري نقشو (پلانونو) لرونکي

وي، ولې د کاري نقشـــې خلاف پــه هغه کي ودانۍ او اساسي زېربناوې جوړې او پلي شوي وي چې د هغوی ارزښت د ځمکي څخه لوړ وي او د تفصيلي کاري نقشې پلي کول غير اقتصادي او د ضرر رامنځته کوونکی وي، اړونده اداره اصلاحي کاري نقشې جوړې او پلي کوي.

(۴)که ســاحې د ځمکو د غصب څخـــه د مخنيوي او غصب شوو ځمکو د استرداد کمېسيون له خوا تصفيه او تثبيت شوي وي او د تفصيلي کاري نقشو لرونکي وي، په اړه يې لاندي ډول کړنې ترسره کيږي.

۱ـ د کابل، هــرات، کندهار، مزارشريــف او جلال آباد ښـــاروالي ګانې مکلفې دي د دې ساحو لپاره تفصيلي کاري نقشـــه ترتيــب او د کور او ښـــار جوړولو وزارت د تفصيلي کاري نقشو او ويزو د کمېسيون د تائيدي او د رياست‌الوزراء له منظورۍ څخه وروسته پلي کړي.

۲ـ د کور او ښار جوړولو وزارت مکلف دی، د هغو ځمکو چي د دې فقرې په ۱ جز او د نورو ښاروالیو په محدوده کي راغلي تفصيلي کاري نقشـــې (پلانونه) ترتيب او د رياســـت‌الوزراء له منظورۍ څخه وروسته د پلي کولو په موخه اړونده ښاروالۍ په واک کي ورکړي.

### د هستوګنيزو ځمکو د نمرو تمليک او وېش

**پنځلسمه ماده:**

(۱) هغه ځمکي چي د ځمکو د غصب څخه د مخنيوي او د غصب شـــوو ځمکو د استرداد کمېسيون له خوا په امارتي طرحو او ښارګوټو کي تصفيه او تثبيت شوي دي، په هغو اشخاصو چي د محکمې له خوا غاصبين پېژندل شوي دي د تمليک او خرڅولو وړ نه دي.

(۲) پلي کوونکي اداره مکلفه ده، د دې مادې په (۱) فقـــره کي ذکر شـــويو ځمکو بانـــدي تفصيلي کاري نقشې پلي کړي.

(۳)که د سړکونو په مسير او عامه ساحو کي د تفصيلي کاري نقشـــې پلي کولو، د تصرف کوونکو جوړې شوي ودانۍ شتون ولري د ځمکو د غصب څخه د مخنيوي او د غصب شـــوو ځمکو د استرداد قانون سره سم اجراءات ترسره کيږي.

(۴) هغه ځمکي چي د ځمکو د غصب څخه د مخنيوي او د غصب شـــوو ځمکو د استرداد کمېسيون له خوا په امارتي طرحو او ښارګوټو کي تصفيه او تثبيت شوي دي، له تفصيلي کاري نقشـــو او د دې قانون له حکمونو سره سم په عين طرحه (پروژه) کي تصرف کوونکو اشخاصو ته د ټاکلي قيمت په بدل کي تمليکاً وېشل کيږي.

(۵) که د دې مادې په (۴) فقره کي ذکر شوي اشخاص له څلورو نمرو ځمکو څخه زيـــات په تصرف کي ولري، نوموړې نمرې هغه ته او يا د هغه لومړي درجه خپلوان، د ميړه، ښځې او صغير اولادونو په شمول د وېش وړ نه دي.

(٦) کــه شـــخص د دې مـــادې د (۴ او ۵) فقرو له حکمونـــو په نظر کي نيولـــو سره د څلورو نمرو ځمکو څخـــه د زياتو ذواليد وي د دې قانون له حکمونو سره سم د ځمکي نمرې د هغه څخه مسترد او په مستحقو اشخاصو وېشل کيږي.

(۷) که په ښاري طرحو کي د وېش وړ نمرو ځمکو شمېر د دې مادې د (۴، ۵ او ٦) فقرو کي د ذکر شوو ذواليدو له شـــمېر څخه زيات وي، اړونده اداره کولای شي هغه تصرف کوونکو ته چي ودانۍ يې په همدې طرحې پورې اړوند سړکونو او عامه ساحو کي له منځه تللي وي ددې

قانون د حکمونو سره سم یې ورته ورکړي.

(۸) که تصرف کوونکي اشخاص ددې مادې په (٦) فقره کي ذکر شـوي سـاحو کي ځمکه د بل شخص څخه اخیسـتې وي، کولای شي د پیسـو د اخیسـتو لپاره پلورونکي ته مراجعه وکړي په هغه صورت کي چي هغه د پیسـو ورکړې ته حاضر نه وي، تصرف کوونکی کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي.

(۹) د دې مادې په (۴) فقره کي د ذکر شـوو سـاحو ځمکو د نمرو قیمـت ددې قانون په پنځمه ماده کي د ذکر شـوې ځمکو د قیمت د ټاکنې له لایحې سره سم حصول کیږي.

(۱۰) که مستحق شخص په دې ماده کي د ذکر شوې ځمکـي قیمت په یو ځل د ورکړې توان ونه لري، اداره کـولای شي د مسـتحق د مالي حالـت څخه د ډاډ ترلاسه کولو څخه وروسته د ځمکي قیمت په قسط وار ډول واخلي.

## د ښاري ارزښت لرونکو ځمکو څخه موثره ګټه اخیستنه

**شپاړسمه ماده:**

(۱)هغه ځمکي چي د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او غصب شـوو ځمکو د استرداد کمېسـیون له خوا په امارتي طرحو او ښارګوټو کي تصفیه او تثبیت شوي وي، او د ښـاري ارزښت لرونکو ځمکو له جملي څخه وي په دې توګه چي د ځمکي قیمت د جوړو شوو ودانیو څخه زیات وي، پلي کوونکې اداره ددې ډول ساحو لپاره د لوړ پوړي سـوداګریزو او مختلط ودانیو د جوړولو په موخه اصلاحي کاري نقشې طرح او د منظورۍ څخه وروسته د داوطلبۍ د اصل په نظر کي نیولو سره پلي او ویشي.

(۲) غیر شرعي ذوالید اشخاصو لپاره په هغه ساحو کي چي ددې مادې (۱) فقره کي راغلي ودانۍ جوړې کړي دي، ددې قانون د حکمونو په رعایت کولو سره د ښاري طرحو په یو طرحه کي د ځمکي نمره وېشل کیږي.

## د ملکیت سند وېش

**اووه لسمه ماده:**

(۱) د ځمکـي د نمرې د ملکیت موقت سـند د اړنده اداري له خوا د ځمکي د قیمت د تحویلي نه وروسـته مشتري یا د هغه شرعي وکیل ته وېشل کیږي.

(۲) د ځمکي د نمرې د ملکیت قطعي سـند (قباله) د محکمې له خوا د تائید شوې نقشې سره سم د ودانۍ د ۳۰ سلنه جوړونې څخه وروسته د اصولو په رڼا کي جوړ او د نافذه تقنیني سـندونو سره سـم مشتري یا د هغه شرعي وکیل ته سپارل کیږي.

## دوهم فصل

## د امارتي ځمکي د وېش د هیئت ایجاد او ترکیب

## د امارتي ځمکي د وېش د هیئتونو ایجاد

**اتلسمه ماده:**

د دې قانون او ښـاري کاري نقشو (پلانونو) سره سم د امارتي ځمکو د نمـرو د پلور او وېش په موخه په اړونده ادارو کي د امارتي ځمکو د وېش هیئتونه جوړیږي.

## د کور او ښار جوړول په وزارت کی د امارتي ځمکو د وېش هیئت

**نولسمه ماده:**

د کور او ښــار جوړولو وزارت پــورې اړوند طرحو کې د امارتي ځمکو د نمــرو د پلور په موخه د مارتي ځمکو د وېش هیئت په لاندي ډول جوړیږي:

۱ـ د کور او ښار جوړولو وزارت وزیر د رئیس په توګه؛

۲ـ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضي اداري با صلاحیه استازی د عضو په توګه؛

۳ـ د سترې محکمې با صلاحیته استازی د عضو په توګه؛

۴ـ د کور او ښار جوړولو وزارت استازی د اړوند وزیر د لزوم دید مطابق د عضو او منشي په توګه.

## د کابل په ښاروالۍ کې د امارتي ځمکو د وېش هیئت

**شلمه ماده:**

د کابل ښاروالۍ پورې اړوند طرحو کی د امارتي ځمکو د خرڅولــو په موخه د امــارتي ځمکو د وېش هیئت په لاندي ډول جوړیږي:

۱ـ د کابل ښاروال د رئیس په توګه؛

۲ـ اړونده معین د عضو په توګه؛

۳ـ د ښــاري کاري نقشو طرح او پلي کولو رئیس د عضو په توګه؛

۴ـ د اړنده ناجیې رئیس د عضو په توګه؛

۵ـ د ملیکتونو رئیس د عضو او منشي په توګه.

## په ولایتونو کې د امارتي ځمکو د وېش هیئت

**یوویشتمه ماده:**

د ولایتونو پورې اړوند طرحو کې د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅ په موخه د امارتي ځمکو د وېش هیئت په لاندي ډول جوړیږي:

۱ـ د اړونده ولایت والي د رئیس په توګه؛

۲ـ د اړونده ولایت ښاروال د مرستیال په توګه؛

۳ـ د اړونده ولایت ښار او کور جوړولو رئیس د عضو په توګه؛

۴ـ د اړونده ولایت د اراضی ادارې مسؤل د عضو په توګه؛

۵ـ د ښــاروالۍ اړونــده ناحیې مســؤل د عضو او منشي په توګه.

## د امارتي ځمکو نمرو د وېش هیئتونو وظیفې او مکلفیتونه

**دوه ویشتمه ماده:**

د امارتي ځمکو نمرو د وېش هیئتونه چې د دې قانون په نولسمه، شلمه او یوویشتمه مادو کې ذکر شوي، هر یو پــه خپله محدوده کــې د لاندي وظیفــو او مکلفیتونو لرونکي دي:

۱ـ د دې قانون د حکمونو سره سم د امارتي هستوګنیزو ځمکو د نمرو د مستحقینو پېژندل او ټاکل.

۲ـــ د دې قانــون د حکمونو سره ســم د هغه مشتري پیژندل چې د ازادې داوطلبۍ له لارې د ســوداګریزې ځمکې نمره لاسته راوړي.

۳ـ د هغه شخص تشــخیص او پیژندل چې په مسترد شوو امارتي ځمکو کې ذوالید وو او په دې ساحو یا نورو ښــاري طرحو کــې د ځمکې د نمرې د ترلاســه کولو مستحق ګڼل کیږي.

**د اپارتمانونو وېش**

**دروېشتمه ماده:**

په دې قانون کې په ځانګړو شوو ساحو او کاري نقشو کې د اپارتمانونو وېش، په دې قانون کې د موظفو هيئتونو له لارې د هماغه کاري نقشو د منظور شوو شرايطو سره سم ترسره کيږي.

**دريم باب**

د ښاري پلانونو سره سم په شخصي ملکيتونو کې د ودانيو (ساختمان) جوړولو اړوند اسانتياوې

دا باب په لاندې دوو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د ملکيتونو د تثبيت د خدمتونو د واحد مرکز اړوند حکمونه.

دوهم فصل: د ساختمان د اجازې صادرولو د خدمتونو واحد مرکز اړوند حکمونه.

**لومړی فصل**

**د ملکيتونو د تثبيت د خدمتونو د واحد مرکز اړوند حکمونه**

**د واحد خدمتونو مرکزونو جوړول**

**څلور ويشتمه ماده:**

(۱) د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضي اداره مکلفه ده چې د روڼتيا او اسانتياوو رامنځته کولو، اداري فساد له منځه وړلو او د عارضيونو د سرګردانۍ د مخنيوي په موخه د کابل ښاروالۍ سره په همغږۍ د ملکيتونو د تثبيت د واحدو خدمتونو مرکزونه د کابل په ښار کې جوړ کړي.

(۲) د کابل ښاروالۍ مکلفه ده چې د روڼتيا او اسانتياوو رامنځته کولو، اداري فساد له منځه وړلو او د عارضينو د سرګردانۍ د مخنيوي په موخه د ساختمان د اجازې صادرولو د واحد خدمتونو مرکزونه د کابل په ښار کې او نورې ښاروالۍ ګانې دې د ښاروالیو د چارو د انسجام لوی رياست سره په همغږي په ولايتونو کې جوړ کړي.

(۳) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضي ادارې

**د ملکيت د تثبيت د خدمتونو د واحد مرکز جوړول**

**شپږ ويشتمه ماده:**

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ اداره مکلفه ده، چې د ملکيت د تثبيت په بهير کې د لازمو اسانتياوو د رامنځته کولو په موخه د ملکيت د تثبيت د خدمتونو واحد مرکز په لاندې ډول جوړ کړي:

۱ـ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ ادارې باصلاحيته استازی؛

۲ـ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ ادارې د کدستر بلاصلاحيته استازی؛

۳ـ د اړوند وثايقو محکمې باصلاحيته استازی؛

۴ـ د اړوند مستوفيت باصلاحيته استازی؛

۵ـ د اړونده ښاروالۍ باصلاحيته استازی.

## د ملکیت د تثبیت د خدمتونو په واحد مرکز کې د اړوندو اداراتو وظیفې او مکلفیتونه

**اوه ویشتمه ماده:**

(۱) د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ اداره د ملکیت د تثبیت د خدمتونو په واحد مرکز کې لاندې **وظیفې او مکلفیتونه لري:**

۱ـ د ملکیت د تثبیت واحد مرکز مدیریت او د لازمو آسانه خدمتونو وړاندې کولو په موخه د لارښودونو، جدولونو، استعلامونو او چک لیستونو جوړول.

۲ـ د ملکیت د سندونو اخیستل او پوره کول او له اړونده لارښودونو او چک لستونو سره سم د غوښتونکو د منلو په موخه د معلوماتو او لارښوونو د ورکړې لپاره د ځانګړو ځانګو جوړول.

۳ـ د واحد مرکز اړونده شعبې یا استازو ته کرنې لیږل او د هغو تعقیبول.

۴ـ د مرکز او اړوند ولسوالیو څخه د سندونو پر اساس د ځمکوالۍ چارو د ثبت شویو معلوماتو راټولول او وړاندې کول.

۵ـ له اړوندو شعباتو څخه د معلوماتو راټولول او څیړل.

۶ـ مالک یا د هغه شرعي وکیل ته د ملکیت د تثبیت په صورت کې د تثبیت با اعتباره جدول ور کول.

۷ـ اړوند محکمې ته د څېړنې په موخه د ملکیت د نه تثبیت کیدو په صورت کې د غوښتونکو د سندونو لیږل.

۸ـ په اړونده دفترونو کې د سندونو ثبت او ساتل (آرشیف) کول.

۹ـ حد اکثر په ۱۵ کاري ورځو کې د ملکیت د تثبیت اړونده چارې نهایي کول او د ملکیت د تثبیت جدول (فورم) غوښتونکي ته ورکول، د عدم تثبیت په صورت کې غوښتونکي ته په مستندو او کتبي دلایلو سره خبر ورکول.

۱۰ـ د وخت د تلف کیدو په د مخنیوي په موخه د کدستر ځانګې معلومات او د کرنو نقل نورو شعباتو او استازو سره شریک کړي تر څو کرنې هم مهاله ترسره شي.

(۲) د ملکیت د تثبیت په معلوماتي جدولونو کې د غوښتونکي بشپړ پېژندنه، د ملکیت اړوند بشپړ ځانګړتیاوې، د ګاونډیانو تصدیق، د ګذر د وکیل تصدیق، د اړوند ناحیې تصدیق او نور اړین معلومات درج کیږي، چې د غوښتونکي له خوا بشپړ او د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته سپارل کیږي.

(۳) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ اداري د کدستر باصلاحیته استازی، په یاد واحد مرکز کې لاندې وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ـ تثبیت شویو ملکیت څخه د کروکي او سکیچ ترتیبول.

۲ـ د کروکي او سکیچ تطبیق د اړونده کدستري کاري نقشو (پلانونو) سره د کدستري قطعاتو معلومات وړاندې کول.

۳ـ د اوسني وضعیت په نظر کې نیولو سره په ملکیتونو کې د معلوماتو سره یو ځای د قبالو تطبیقول.

۴ـ درو کاري ورځو کې د دې مادې په (۳) فقره کې ذکر شوي اړین معلومات د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ورکول.

۵ـ د وثایقو د محکمې باصلاحیته استازی، د ملکیت د تثبیت شویو معلوماتو راټولول او د ملکیت د تثبیت د

خدمتونو واحد مرکز مدیریت ته يې وړاندې کول.

۶ـ د محکمې له اړوندو څانګو څخه د وثایقو او سندونو د صحت په اړه معلومـــات راټولول او د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته يې وړاندې کول.

۷ـ د اړتیا په صورت کې په محاکمو کې د ملکیت په اړه د احـــتمالي دعوی په صورت کې د معلوماتو راټولول، او په اړه يې شوې فیصلې ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته وړاندې کول.

۸- د دې فقرې په ۱، ۲، او ۳ اجزاوو کې د ذکر شویو او نور اړین معلومـــات د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته په ځلورو کاري ورځو کې وړاندې کول.

۹- د مستوفیت شعبه مکلفه ده چې له اړوندو څانګو څخه د مالیې ورکولو او د هغې د ثبت د څرنګوالي په اړه معلومات راټول او حد اکثر په دوه کاري ورځو کې د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز سره يې شریک کړي.

۱۰- د اړوند ښار ښاروالۍ با صلاحیته استازی د ملکیت د تثبیت د خدمتونو په واحد مرکز کې لاندې وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ـ د غوښتونکي د قبالې پر اساس د ساحو د تثبیت په موخه د استملاک یا نه استملاک معلومات راټولول او د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز سره يې شریک کول.

۲ـ د ملکیت د تثبیت شـــوې ساحې د ثبت یا نه ثبت د څرنګوالي په اړه د معلوماتو راټولول او د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز سره يې شریک کول.

۳- د تثبیت شویو ساحو اوسني وضعیت او په هغو کې د ښاري کاري نقشو (پلانونو) د تطبیق د څرنګوالي په اړه د معلومـــاتو راټولول او د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز سره يې شریک کول.

۴ـــ پـــه ۱، ۲ او ۳ اجزاوو کې د ذکر شـــویو او نور اړین معلومات د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته په ځلورو کاري ورځو کې وړاندې کول.

## د ښارونو نقشه (پلان) شوو او د ښار تاریخي ساحو د وېش او ثبت څخه ډاډ ترلاسه کول

### اته ویشتمه ماده:

(۱) د ښارونو نقشه شویو او تاریخي ساحو د وېش او ثبت چې ســـندونه يې په ښـــاروالیو کې شـــتون ولري او د ځمکوالۍ ســـوابق يې د کرنې، اوبـــو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ اړوندو شعباتو کې نشته، د سندونو په اړه يې ښاروالۍ مکلفه ده.

(۲) د ملکیـــت د تثبیت د خدمتونو په واحد مرکز کې د محکمې با صلاحیته اســـتازی مکلف دی چې د اړتیا په صورت کې د دې قانون دوویشـــتمې مادې د (۳) فقرې معلومات په ذکر شـــویو ساحو کې، په ټاکل شوې موده کې، د اړوند ښـــاروالۍ څانګې د ملکیـــت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته وړاندې کړي.

(۳) اړوند ښـــاروالۍ مکلفه ده چې د لازمو اسانتیاوو د برابرولو، د چـــارو د پرمخ بیولو او د بریښـــنایي نظام د رامنځته کولو په موخه مسلکي کارکوونکي وګماري.

(۴) ښاروالۍ مکلفه ده چې د ښار په نقشه (پلان) شویو او تاریخي ســـاحو کـــې د ملکیت د وېـــش او ثبت له څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو جریان په پنځو کاري ورځو کې بشپړه کړي.

## د ملکیت په تثبیت کې اسانتیاوې

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز مکلف دی د غوښتونکي هغه سندونه چې ځمکه یې امارتي یا استملاک شوې نه وي او تر دعوی لاندې هم نه وي، د دې مادې د حکمونو سره سم لاندې کړنې ترسره کړي.

(۲) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل، چې د محکمې رسمي سند (شرعي وثیقه) ولري او د ابطال سند یې موجود نه وي او د ملکیت د سند په ډول یې د ملکیت د تثبیت د خدمتوتو واحد مکز ته وړاندې کړي، د ثبت محفوظ او په ساحه کې د زراعتي سوابقو لرلو، ډاډ ترلاسه کولو وروسته، د ملکیت د تثبیت جدول (فورمه) ورته صادرېږي.

(۳) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل د مالیې د ورکړې سند د ملکیت د سند په توګه د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته وړاندې کړي، د مالیې د ورکړې ثبت به اړوند مستوفیت یا د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ ادارې له خوا په ساحه کې د تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو وروسته، د ودانۍ د کار کولو اجازه ورته صادرېږي.

(۴) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل، د ملکیت رسمي سند چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ له خوا صادر شوی وي د ملکیت د سند په حیث د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته وړاندې کړي د تصفیې او ثبت په اړه یې د یادې اراضۍ ادارې له خوا د ډاډ ترلاسه کولو څخه وروسته د ابطال سند د نه موجودیت په صورت کې، د ملکیت د تثبیت جدول ورته صادرېږي.

(۵) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل، غیر رسمي (عرفي) سند یا د معاملاتو د لارښوونې دفتر سند، د ملکیت د سند په توګه د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز ته وړاندې کړي او د ابطال سند یې نه وي، په هغه صورت کې چې ساحه د شخصي قطعو ځمکو څخه وي، وروسته له دې چې د مسجد امام، دوه ګاونډیان او د سیمې د ګذر وکیل یې د ملکیت تصدیق وکړي او د ساحې سره مطابقت ولري، د ملکیت د تثبیت جدول ورته صادرېږي.

(٦) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل د دې مادې له (۲، ۳، ۴ او ۵) فقرو سره سم شرعي یا غیر رسمي (عرفي) سند ونه لري، خو د ودانۍ جوړولو لپاره د ذوالیدي غوښتنه وکړي، په هغه صورت کې چې ځمکه په امارتي ساحه کې یا استملاک شوې او هم تر دعوی لاندې نه وي، د ملکیت د تثبیت د خدمتونو واحد مرکز دې د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره د ودانۍ د کار کولو اجازه صادره کړي:

۱ـ پنځلسو کلونو لپاره له ذوالید څخه، د درې ګاونډیانو، د سیمې د مسجد د امام او د برحاله ګذر وکیل له خوا تایید کول؛

۲ـ د صفا یې کتابچه یا د برېښنا بل درلودل چې د ذوالید موده پنځلس کاله تایید کړي؛

۳ـ د ملکیت مساحت له پنځه سوه متر مربع څخه زیات نه وي او یوازې د غوښتونکي له خوا د اوسېدو لپاره ټاکلې موده کې استفاده شوی وي.

(۷) که غوښتونکی یا د هغه شرعي وکیل، د دې مادې د (۲ او ۳) فقرې سره سم اسناد وړاندې کړي او په امارتي ساحو کې د ملکیت تثبیت غوښتنه وکړي، د ملکیت د

تثبیت د خدمتونو واحد مرکز دې د اړونده ادارو له استازو څخه معلومات راټول او موضوع دې د تصفیې او تثبیت لپاره د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت د اراضی ادارې ته ولېږي.

(۸) د ملکیت د تثبیت جدول چې د واحد مرکز له خوا صادر شوی وي، نه شي کولی چې د دریم کس د دعوا مانع وګرځي.

(۹) د ګذر وکیلان، ګاونډیان، د مسجد ملا امامان او نور اشخاص چې د غوښتونکي د ملکیت ذوالیدي تائید کوي، ورکړل شوي معلومات باید سم وي، که نه قانوني مسؤلیت به یې پر غاړه وي.

## دوهم فصل

د ساختمان د اجازې د صادرولو د خدمتونو د واحد مرکز اړوند حکمونه

## د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو د واحد مرکز جوړښت

**دېرشمه ماده:**

د ساختمان (ودانیو) د اجازې د صادرولو په بهیر کې د چټکتیا او اړینو اسانتیاوو رامنځته کیدو په موخه، د کابل ښار، لومړی او دوهمې درجې ښاروالیو په سطحه د ښاروالیو تر مدیریت لاندې، د ساختمان د اجازې د صادرولو د خدمتونو واحد مرکز په لاندې ډول جوړیږي:

۱ـ د اړوند ښاروالی با صلاحیته استازی؛

۲ـ د برېښنا شرکت با صلاحیته استازی؛

۳ـ د ښاري فاضلابو او اوبو رسونې امارتي شرکت با صلاحیته استازی؛

۴- د کورنیو چارو وزارت د اور وژنې ادارې با صلاحیته استازی.

## د اجازې صادرولو اړوندو اداراتو وظیفې او مکلفیتونه

**یو دېرشمه ماده:**

(۱) د ښاروالی با صلاحیته استازی، د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو په واحد مرکز کې لاندې وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ـ مدیریت او د لارښوونو، جدولونو، استعلامونو او معرفت پاڼو (چک لیستونو) ترتیبول؛

۲ـ د لارښوونو، جدولونو، استعلامونو، معرفت پاڼو (چک لیستونو) او د نورو سندونو د ټولولو او غوښتونکو ته د لارښوونې په موخه ځانګړې برخه جوړول؛

۳ـ اړوند شعبې یا استازي ته د کړنو لېږل او د هغو تعقیبول؛

۴ـ په نقشه شویو (پلاني) ساحو کې د کروکي ترتیب او فني (تخنیکي) سروې او د معلوماتو راټولول؛

۵- په غیر نقشه شویو (پلاني) ساحو کې د کروکي ترتیب د ملکیت له حق سره سم، فني (تخنیکي) سروې او د معلوماتو راټولول؛

٦- د سـړکونو، کانالونو او د عامه تاسیساتو د ارزونو له منظور شویو ښاري نقشــو (پلانونو) سره سم معلومات وړاندي کول؛

۷- له منظور شـویو ښاري نقشــو (پلانونو) سره سم د ځمکو د ګټې اخیســتنې د څرنګــوالي او د نورو اړینو معیارونو څېړنه او د معلوماتو وړاندي کول؛

۸- له ښــاري نقشو (پلانونو) سره سم د ساحو څېړنه او د غیر نقشــه شــویو (پلاني) ســاحو د اسکیچ د طرحې جوړول؛

۹- له معیارونو، تحلیلونو او اړوندو قواعدو سره ســم، د غوښتونکي لپاره د نقشي جوړولو دستور؛

۱۰- د تاییــد (وېزې) د هئیت له خوا د غوښــتونکي د ورکړل شویو نقشو بررسي او ارزونه؛

۱۱ـ له غوښتونکي څخه د قواعدو سره سم د مالي چارو او انجنیري خدمتونو څېړنه، سنجش او حصول؛

۱۲- د مالــک یا د هغه شرعي وکیل ته د ســاختمان د اجازې صادرول؛

۱۳- د ســاختمان جوړولو د اجــازې د نه صادرېدلو په صورت کــي، مالک یا د هغه شرعي وکیل ته مســتدل معلومات ورکول؛

۱۴- په اړوندو دفاترو کي د سندونو ثبت او ذخیره کول.

(۲) د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو واحــد مرکز مکلــف دی چي پــه ۱۵ کاري ورځو کي غوښتونکي ته د ساختمان جوړولو اجازه صادره کړي.

(۳) هغه موده چي غوښتونکی یې د نقشو د ترتیب او اصلاح لپاره اخلي، د دې مــادې د (۲) فقرې له حکم څخه مستثنی ده.

(۴) د برېښــنا شرکت با صلاحیته استازی د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو په واحد مرکز کي لاندي وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ـ د ساحو د برېښنا شبکي او د ودانۍ د برېښنا شبکي په اړه فني (تخنیکي) تحلیل او نظر ورکول.

۲ــ احد اکثر په یوه کاري ورځ کي د دې فقرې په ۱ جز کي ذکر شوي او نور اړین معلومات د یاد مرکز مدیریت ته وړاندي کول.

(۵) د ښــاري فاضلابو او اوبو رســونې امارتي شرکت با صلاحیته اســتازی د ســاختمان (ودانیــو) د اجازې صادرولو د خدمتونو په واحد مرکز کي لاندي وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ــ د ودانیو د فاضلابو د تصفیې اړوندو نقشــو ترتیب، څېړنه او تاییدول؛

۲ـ احد اکثر په درو کاري ورځو کي د دې فقرې په ۱ جز کي ذکر شوي او نور اړین معلومات د یاد مرکز مدیریت ته وړاندي کول.

(٦) د کورنیــو چــارو وزارت د اور وژنــې اداري بــا صلاحیته اســتازی د ســاختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو په واحد مرکز کي لاندي وظیفې او مکلفیتونه لري:

۱ـ د اور وژنې له معیارونو سره ســم د ودانیو د نقشــې څېړنه او ارزونه؛

۲ـ حد اکثر په یوه کاري ورځ کي د دې فقرې په ۱ جز

کې ذکر شوي او نور اړین معلومات د یاد مرکز مدیریت ته وړاندې کول.

## په ولایتونو کې د ساختمان د اجازې صادرولو د خدمتونو د واحد مرکز جوړښت

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) د ساختمان د اجازې صادرولو په جریان کې د چټکتیا او اړینو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه، د کور او ښار جوړولو وزارت تر مدیریت لاندې، په ولایتونو کې د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو واحد مرکز په لاندې ډول جوړیږي:

۱ـ د کور او ښار جوړولو ریاست با صلاحیته استازی

۲ـ د اړونده ښاروالۍ با صلاحیته استازی

۳ـ د برېښنا شرکت با صلاحیته استازی

۴ـ د ښاري فاضلابو او اوبو رسونې امارتي شرکت با صلاحیته استازی

۵ـ د کورنیو چارو وزارت د اور وژنې د ادارې با صلاحیته استازی.

(۲) د ساختمان (ودانیو) د اجازې صادرولو د خدمتونو واحد مرکز به په دریمه درجه ښاروالیو کې خپل وظایف د دې قانون د حکمونو سره سم پر مخ وړي.

(۳) د ساختمان جوړولو اجازه چې د دې قانون له حکمونو سره سم غوښتونکي ته صادریږي، یوازې د ساختمان د جوړولو تخنیکي سند دی.

(۴) د ساختمان د جوړولو اجازه چې د دې قانون له حکمونو سره سم غوښتونکي ته صادریږي، نه د ملکیت سند او نه د ملکیت د تایید سند دی او نه هم د دریم کس د دعوی مخه نیولی شي.

## ځلورم باب

## متفرقه حکمونه

## غیر نقشه شویو (غیر پلاني) ساحو لپاره د کاري نقشې (پلان) جوړول

**دري دېرشمه ماده:**

د کور او ښار جوړولو وزارت او ښاروالۍ ګانې مکلفې دي چې له وظیفوي مکلفیتونو سره سم، د هغو سیمو لپاره چې ښاري کاري نقشې (پلان) نه لري، ژر تر ژره ښاري کاري نقشې (پلانونه) ترتیب او هغه سیمې چې د کاري نقشې (پلان) اصلاح ته اړتیا لري، اصلاحاتو په موخه کوټلې ګامونه پورته کړي.

## عامه پوهاوی

**څلور دېرشمه ماده:**

د کور او ښار جوړولو وزارت او ښاروالۍ ګانې مکلف دي چې ښاري کاري نقشې (پلانونه) او نقشې خلکو ته د خبراوي په موخه وړاندې کړي او د عامه پوهاوي لپاره اړین ګامونه پورته کړي.



## بانکي اسانتیاوې

**پنځه دېرېشمه ماده:**

(۱) د کور او ښار جوړولو وزارت او ښاروالۍ ګانې مکلف دي چې په خپلو اړونده اداراتو کي غوښتونکو ته بانکي اسانتیاوې برابرې کړي.

## د طرزالعملونو تدوین

**شپږ دېرشمه ماده:**

د دې قانـــون د تطبیق مراجع کـــولای شي د دې قانـــون د حکمونـــو د ښـــه تطبیـــق پـــه منظـــور طرزالعملونه تدوین کړي.

## تعدیل یا لغو

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱)د دې قانون تعدیل یا لغو د تقنیني پړاوونو له تیرولو څخه وروسته د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی حضور ته د توشېح لپاره وړاندي کیږي.

## انفاذ او خپرول

**اته دېرشمه ماده:**

دغه قانون د توشـــېح له نېټې څخه نافذ او په رســـمي جریده کـــي دې خپور شي او نور هغـــه قوانین چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله تعالی له خوا تایید یا توشـــېح شوې نه وي او یا له دې قانون سره مغایر وي، ملغی دي.

# په تخار ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه چې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، د تخار ولایت مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه یې د تایید وړ وبلله او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.

د دغه څلور پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړولو لپاره خصوصي سکټور ۱۱۰ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې لسګونو هېوادوالو ته به د کار فرصتونه برابر کړي.



# د پانګونې بین الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.

دې غونډې ته په کابل ښار کې د معیاري روغتون جوړولو او همداراز د برېښنا په بېلابېلو برخو کې د پانګونې طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

ځانګړو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو طرحو مالي، تخنیکي او اقتصادي اړخونه په ښه ډول و ارزوي او خپل راپور په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





# لیدني کتنې،
# د اقتصادي پروژو د پرمختگ راپورونه
# او انفوگرافیکونه

# له هنګرا ځلورلارې تر قصبې پورې غځېدلی سړک به ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي

د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم له هنګرا ځلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک پروژې چارې له نږدې وڅارلې. د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د کابل ښاروالۍ او قراردادي شرکت له مسوولینو مننه وکړه، چې د ټولو تخنیکي معیارونو په پام کې نیولو سره یې د دغه سړک چارې له ټاکل شوي وخت مخکې بشپړې کړې دي. د کابل ښاروالۍ او قراردادي شرکت مسوولینو د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت له مسوولینو څخه خوښي څرګنده کړه، چې له دوی یې هراړخیز ملاتړ کړی او د پروژې په جریان کې یې غوښتنو او ستونزو ته په وخت رسېدنه کړې ده. د قراردادي شرکت مسوولینو وویل چې د دې پروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق یو کال او اته میاشتې وخت ورکړل شوی، خو د قرارداد له ټاکلې مودې وړاندې یې دغه پروژه بشپړه کړې ده. له هنګرا

ځلورلارې تر قصبې پورې غځېدلی سړک ۱.۹ کیلومتره اوږدوالی او ۴۵ متره سور لري، چې اوسمهال یې ۱۰۰ سلنه چارې بشپړې شوې او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه سړک د تګ راتګ لپاره دوه اساسي سړکونه، د سړک دواړو لورو ته پلې لارې او لښتي، ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. په دې سره په کابل ښار کې ترافیکي ګڼه ګوڼه تر ډېره بریده راټیټه شوې او هېوادوالو ته د تګ راتګ پرمهال اسانتیاوې برابرې شوې دي. پر دغه سړک ۱۷۷ میلیون افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکړل شوی دی. د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.



# د ارغندي ترانسپورټي ترمينل
## د جوړېدو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي



د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي ټيم د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشـــتې په پنځمه نېټه د ارغندي ترانســـپورټي ترمينل پروژې چـــارې له نږدې وڅارلې. د ترانســـپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولينو وويل، د دغه ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارې د پلان مطابق د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره روانې دي، چې اوسمهال ۲۵ ســـلنه پرمختګ لري. دوی وويل، د دې پروژې د تطبيق لپاره دوه کاله وخت ورکړل شوی، چې په ښــه کيفيت سره به يې پــه ټاکلي وخت چارې بشپړې کړي.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي معاونيـــت تخنيکي ټيم د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له مسوولينو څخه مننه وکـــړه، چې د پلان او وخت په پـــام کې نيولو سره يې د پروژې چارې روانې دي؛ خو هغوی ته يې په يوشمېر برخو کې موجودې ستونزې په نښه او د پروژې د لا ښه تطبيق په موخه يې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

د ارغندي ترانســـپورټي ترمينل په ۹۱۴ جريبه ځمکه جوړيږي، چې يو ميليارد او ۲۸۵ ميليون افغانۍ لګښت پرې راځي. دغه ترمينل په يو وخت کې د زرګونو مسافر وړونکـــو او بار وړونکو موټرونـــو د ځايولو ظرفيت لري او همداراز د مســـجد، تمځايونو، پارکېنګونو، رسټورانټ، دوکانونو، روغتون، اور وژنې سيســـټم، ورکشاپ او نورې اړينې اسانتياوې په پام کې نيول شوې دي.

د يادونـــې وړ ده چې د ارغندي ترانســـپورټي ترمينل د جوړېدو چارې د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د حمل مياشتې په دريمه نېټه له پرانيستې سره سم پيل شوې وې.

# کار توسعه سب‌استیشن ارغندی ۷۵ درصد تکمیل شده است

تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ پنجم میزان ۱۴۰۴ خورشیدی، از کارهای توسعه‌ای سب‌استیشن ارغندی از نزدیک بازدید نمود.

مسؤلین وزارت آب و انرژی و شرکت قراردادی گفتند که کارهای توسعه‌ای این سب‌استیشن مطابق پلان، با در نظر گرفتن زمان و کیفیت، به‌گونهٔ خوب در حال پیشرفت است و در حال حاضر ۷۵ درصد آن تکمیل شده است.

آنان برخی از مشکلات خود را با تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء شریک ساختند و گفتند که اگر به موقع به مشکلات آنان رسیده‌گی شود، در مدت ۷ ماه آینده مطابق پلان، کارهای پروژه را تکمیل خواهند کرد.

تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء به آنان اطمینان داد که مشکلات‌شان حل خواهد شد و بر کیفیت کار مطابق پلان تأکید نمود. توسعهٔ سب استیشن ارغندی حدود ٦۰۰ میلیون افغانی هزینه بر می دارد که با تکمیل کار، ظرفیت آن به ۴۰۰ میگاوات افزایش خواهد یافت.

با تکمیل پروژهٔ توسعهٔ سب‌استیشن ارغندی و پروژهٔ تمدید خطوط برق از دشت الوان تا سب‌استیشن ارغندی، حدود ۱۰۰۰ میگاوات برق از ترکمنستان انتقال خواهد یافت و مشکل برق ۱۳ ولایت از جمله کابل حل خواهد شد.

قابل یادآوریست که کار پروژهٔ توسعه سب‌استیشن ارغندی، به تاریخ هفتم سرطان ۱۴۰۳ خورشیدی، از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، افتتاح شده و برای تکمیل آن دو سال وقت تعیین گردیده است.



# په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د معیاري انتظارخونې د جوړېدو چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په شپږمه نېټه په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د معیاري انتظارخونې د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې. د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولینو وویل، د پلان مطابق یې د وخت او ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره د دې پروژې چارې پیل کړې، چې اوسمهال یې چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي. هغوی زیاته کړه، قراردادي شرکت ژمن دی چې په ټاکلي وخت یې پاتې چارې هم بشپړې کړي.

د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او قراردادي شرکت له مسوولینو مننه وکړه، چې د دغه انتظارخونې په چارو کې یې ټول معیارونه په پام کې نیولي دي. هغوی وویل، د دې انتظارخونې د چارو په بشپړېدو سره به په کابل نړیوال هوايي ډګر کې مسافرو ته زیاتې اسانتیاوې برابرې شي.

دغه انتظارخونه په یو وخت کې د ۶۰۰ مسافرو او پارکېنګ یې په یو وخت کې د ۳۸۰ موټرو د ځایولو ظرفیت او پردې سربېره مسجد، رسټورانټ، روغتون، تمځایونه، لېفټونه او برېښنايي زینې، وي آی پي سالون او ټولې اړینې اسانتیاوې لري. پر دغه پروژه ۳۲۳ میلیون افغانۍ لګښت راځي.

د یادونې وړ ده چې د دغه انتظارخونې د جوړېدو چارې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په څلورمه نېټه پیل شوې وې. د قرارداد له مخې ددغې انتظار خونې د جوړېدو له پاره ۱۸ میاشتې وخت په پام کې نیول شوی و.



# اریانا افغان هوایي شرکـت د وچو او تازه میوو د صادراتو لپاره د هوایي کارګو اسانتیاوې رامنځته کوي




د ریاســتالوزراء اقتصــادي مرســتیال مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند پــه مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشــتې په ۱٦مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوایي کارګو له لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه غونډه ترسره شــوه. په غونډه کې له بحــث وروســته د اریانا افغــان هوایي شرکت مسوولینو ته سپارښتنه وشوه چې اوسمهال له ګټې پرته په تمام شــوي قیمت بهرنیو هېوادونــو ته د وچو او تازه میوو صادرات پیــل او همدارنګه د یادو میوو د صادراتو لپاره د چارټر الوتکو د پیدا کولو په اړه له هوایي کارګو شرکتونو سره خبرې وکړي. همداراز د اوږدمهال لپاره د دې ســتونزې د اســاسي حل په موخه د اریانا افغان هوایي شرکت مســوولینو ته دنده وسپارل شوه چې دوه کارګو الوتکې وپېــري. د دې الوتکو د پېرودلو لپاره به اسلامي امارت بودیجه ورته ځانګړې کړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې مســوولینو ته هم دنده وسپارل شوه چې له ســوداګرو سره د هوایي کارګو شرکت د رامنځته کولو په اړه مجلسونه وکړي.

د یادو ادارو له استازو وغوښتل شول چې خپل راپورونه په لنډ وخت کې د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي.

# د کابل – غزني دویم لین سړک
## د جوړېدو چارو پرمختګ کړی



د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۰مه نېټه د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د قراردادي شرکتونو له ترسره شوو کارونو خوښي څرګنده کړه او له هغوی یې وغوښتل چې د ډیزاین مطابق یې پاتې چارې په خپل وخت بشپړې کړي. د هغوی په خبره، د کابل – غزني په لومړي لین سړک ترافیکي ګڼه ګوڼه ډېره زیاته ده او اړتیا ده چې د دویم لین پاتې چارې یې ژر بشپړې شي. د ټولګټو وزارت مسوولینو وویل، د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارې په پنځو لاټونو وېشل شوې دي، چې اوسمهال یې د پلان او ډیزاین مطابق د لومړي، درېیم او پنځم لاټونو عملي کار جریان لري. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د ټولګټو وزارت مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، څو ژر تر ژره د دویم او څلورم لاټونو قراردادونه هم نهایي او عملي چارې یې پیل کړي. د قراردادي شرکتونو مسوولینو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او ټولګټو وزارت له مسوولینو مننه وکړه، چې غوښتنو ته یې په وخت رسېدنه کړې ده او ډاډ یې ورکړ، چې د ډیزاین مطابق یې د سړک کیفیت ته پوره پام کړی دی. هغوی زیاته کړه، هڅه کوي چې پاتې چارې له ټاکل شوي وخت مخکې بشپړې کړي. د کابل – غزني دویم لین سړک ۱۱۱ کیلومتره اوږدوالی لري چې اوسمهال یې د لومړي لاټ چارې ۴۲ سلنه، د درېیم لاټ چارې یې ۲۲ سلنه او د پنځم لاټ چارې یې بیا ۶۱ سلنه بشپړې شوې دي. د دغه سړک په اوږدو کې ۹ لوی پلونه او ۵۹۰ پلچکونه شامل دي. د یادونې وړ ده چې د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۰مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.

# دیدار معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء با مسؤلان شماری شرکت های روسی

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بتاریخ، ۲۳ میزان ۱۴۰۴ خورشیدی، در دفتر کاری خود با مسؤلان شماری از شرکت های روسی دیدار نمود. مسؤلان شرکت‌های روسی اعلام کردند که آماده‌اند در زمینه‌های اکتشاف و استخراج نفت، جست، مس و کرومایت، مدیریت آب، تولید برق و تولید ماشین‌آلات تخنیکی در افغانستان سرمایه گذاری کنند و به منظور ایجاد هماهنگی سریع با ادارات مربوطه، دفتر خود را در کابل افتتاح نمایند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از علاقه مندی شرکت‌های روسی به سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف استقبال کرد و به آنان از هرگونه همکاری لازم اطمینان داد.



# پروژه‌های آماده برای سرمایه‌گذاری
# در بخش تولید برق از زغال‌سنگ و بایوماس

امارت اسلامی افغانستان فرصت‌های بسیار خوبی را برای سرمایه‌گذاری در سکتورهای مختلف فراهم کرده است. تمامی سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی می‌توانند با اطمینان کامل در این سکتورها سرمایه‌گذاری نمایند. امارت اسلامی از هر نوع همکاری و حمایت اطمینان می‌دهد.



پروژه تولید برق از زغال سنگ در ولسوالی خنجان ولایت بغلان — ظرفیت ۱۰۰ میگاوات

پروژه تولید برق از زغال‌سنگ در خواجه الوان ولایت بغلان — ظرفیت ۳۰۰ میگاوات

پروژه تولید برق از زغال سنگ در ولسوالی‌های کهمرد و سیغان ولایت بامیان — ظرفیت ۴۰۰ میگاوات

پروژه تولید برق از زغال سنگ در ولسوالی شولگره و منطقه چشمه شفا ولایت بلخ — ظرفیت ۷۰۰ میگاوات

پروژه تولید برق از زغال‌سنگ در ولسوالی کرُخ ولایت هرات — ظرفیت ۱۵۰ میگاوات

پروژه تولید برق از بایوماس در ولسوالی بَگرامی ولایت کابل — ظرفیت ۳۰ میگاوات

انفوگرافیک

# د بادي برېښنا د تولید په برخه کې د پانګونې له پاره چمتو پروژې

د افغانستان اسلامي امارت په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې لپاره خورا ښه فرصتونه برابر کړي دي. ټول کورني او بهرني پانګوال کولی شي په دې سکټورونو کې په پوره ډاډ سره پانګونه وکړي. اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

- بلخ - لومړی نایب اباد - ۴۰ میګاواټه
- بلخ - دوهم نایب اباد - ۴۰ میګاواټه
- بلخ - حیرتان - ۴۰ میګاواټه

- هرات - دشت حوض - ۴۰ میګاواټه
- هرات - دشت ترکه - ۴۰ میګاواټه





**یادونه:** هر پانګوال کولی شي خپلې د پانګونې طرحې په دغو ادرسونو د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته راولېږي:

**برېښنالیک:** AIIMC@dpmea.gov.af

**اړیکې شمېره:** ۰۲۰۲۱۰۰۹۷۶



# د ټاپي پروژې له کاري بهير څخه
# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ليدنه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ترکمنستان ملي رهبر

# د ټاپي پروژې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړې پلاوي او د دوست هېواد ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربانقلي بردي محمدوف او ورسره مل پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې له چارو لیدنه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان له ملي رهبر څخه مننه وکړه چې د ټاپي پروژې د عملي چارو د لېدنې او په دې برخه کې د لا ډېرې همغږۍ په موخه یې افغانستان ته تشریف راوړی. محترم ملا صاحب ټاپي د سیمه‌ییزې همکارۍ، اقتصادي یووالي او ګډې سوکالۍ رامنځته کېدو لپاره مهمه وبلله او ویې ویل، چې اوسمهال یې په افغانستان کې عملي چارو ۱۴ کیلومتره پرمختګ کړی دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت لیدلوری یوازې تر ټاپي پروژې محدود نه دی؛ بلکې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اقتصادي دهلېز د پراختیا په هدف کار کوي. په دغه دهلېز کې د ټاپ - ۵۰۰ بریښنا د انتقال پروژه، د ریل پټلۍ جوړونه، سړکونه او لوجستیکي مرکزونه او نورې اقتصادي پروژې شاملې دي چې اسلامي امارت یې د پلي کېدو، امنیت او دوام لپاره بوره ژمن دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز پر ترکمنستان او ټولو نړیوالو شریکانو غږ وکړ، چې په افغانستان کې د پانګونې له موجودو فرصتونو ګټه پورته او دلته پانګونه وکړي. وروسته د ترکمنستان ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف خبرې وکړې. نوموړي د کابل او عشق اباد اړیکې پیاوړې او د پراختیا په حال کې وبللې او له اسلامي امارت یې مننه وکړه چې د دغه مهمې سیمه ییزې پروژې د تطبیق لپاره یې بوره همکاري وکړه. نوموړي وویل، ټاپي پروژه د ترکمن حکومت په لومړیتوبونو کې ده چې د سیمې په اقتصادي ثبات کې به رغنده رول ولوبوي. هغه زیاته کړه، د ټاپي پروژې د تطبیق لپاره اوسمهال تر ټولو ښه شرایط برابر شوي او په سیمه کې یوازینۍ پروژه ده چې نړیوال ملاتړ له ځان سره لري. قربانقلي بردي محمدوف همداراز وویل، ترکمنستان به په خپل ټاکلي وخت د ټاپي پروژې چارې بشپړې کړي چې افغانستان به په کلنۍ ډول ترې شاوخوا یو میلیارد ډالر عواید ولري. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ګاونډیو هېوادونو غږ وکړ چې د تقابل او غیر اصولي کړنو پر ځای په متقابل احترام ولاړو اړیکو ته مخه کړي او د هېوادونو ملي حاکمیت، غرور او ملت ته دې په سپکه سترګه نه ګوري.





# د ټاپي پـروژې د چارو پرمـخ بيولـو کـې به افغانانـو ته هم د کار زمينــه برابــره شي

د ریاســت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ميزان مياشتې په ۲۸مه نېټه د ترکمنســـتان هېواد له ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف سره وکتل.

د دې ليدنې پرمهال د ټاپي پروژې ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوشمېر نورو اقتصادي پروژو په اړه هم خبرې وشوې.

د رياســت الوزراء اقتصادي مرستيال ټاپي د افغانســتان، ترکمنستان او سيمې هېوادونو د اقتصاد لپاره مهمه وبلله او له ترکمن لوري يې وغوښــتل چې افغانانو ته هــم د دې پروژې د چارو پرمخ بيولو کې کاري فرصتونه برابر کړي.

ترکمن لوري وويل، د ټاپي پروژې د طرزالعمل مطابق بــه ډېرو افغانانو ته د کار او مســلکي روزنې زمينه برابره کــړي. هغوی زیاته کړه، د عشــق اباد او کابل ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پراختيــا لپاره د نــورو لويو اقتصــادي پروژو تطبيق ته هم چمتو دي.

## دیدار معاون اقتصادی ریاست الوزراء با معاون کابینه ترکمنستان

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، با باتور امانوف، معاون کابینه ترکمنستان در بخش نفت و گاز دیدار نمود. معاون کابینه ترکمنستان در بخش نفت و گاز دربارهٔ پیشرفت‌های کار پروژهٔ تاپی در خاک افغانستان معلومات ارائه نموده، گفت که در حال حاضر، کار پروژه در افغانستان تا ۱۴ کیلومتر پیش رفته و ۷۰ کیلومتر دیگر نیز برای نصب لوله آماده شده است. وی افزود که برای ۳۰ کیلومتر لوله‌ها ساخته شده و در ماه آینده نصب خواهد شد. به گفتهٔ نامبرده، کار پروژهٔ تاپی در خاک افغانستان به خوبی جریان دارد و امارت اسلامی تمام تسهیلات لازم را برای آن فراهم کرده است. معاون کابینه ترکمنستان در بخش نفت و گاز همچنین گفت که در طول یک سال آینده، کار این پروژهٔ مهم منطقه‌ای در افغانستان تکمیل خواهد شد. محترم ملا صاحب از کار انجام‌شده تقدیر کرد و بر کیفیت اجرای پروژه تأکید نمود.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند فاز دوم فابریکه ذوب آهن کابل فولاد را افتتاح کرد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲۸ میزان، در جریان سفرش به ولایت هرات، فاز دوم فابریکه ذوب آهن کابل فولاد را در پارک صنعتی هرات افتتاح نمود. محترم ملا صاحب اظهار داشت که با آمدن امارت اسلامی، کشورهای منطقه و بسیاری از کشورهای جهان گام های عملی برای توسعه روابط اقتصادی با افغانستان برداشته‌اند و این تلاش‌ها همچنان در حال گسترش می‌باشند. محترم ملاصاحب افزود که امارت اسلامی توجه خاصی به رشد صنعت دارد و به همین منظور پروژه‌های بزرگ تولید برق داخلی و وارداتی را آغاز کرده است. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از تمام سرمایه‌گذاران خواست تا در افغانستان سرمایه گذاری نمایند و تأکید کرد که امارت اسلامی هر نوع همکاری را در این زمینه تضمین می‌کند .در فاز دوم فابریکه ذوب آهن کابل فولاد ۲۰ میلیون دالر سرمایه گذاری شده و این فاز توانایی پروسس ۵۰۰ تُن آهن را در یک روز دارد.





# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

# د ازادو اقتصادي زونونو نړیوال کانگرس
# او د افغانستان اقتصادي فرصتونه

زاهد خلیلي

په دې لیکنه کې د ازادو اقتصادي زونونو په نړیوال کانگرس کې د افغانستان د صنعت او سوداگرۍ وزیر د گډون، د کانگرس موخې او اجنډا، د افغانستان له پاره د فرصتونو څرک او د افغانستان له پاره د کانگرس د ارزښت په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

په اوسنۍ نړۍ او نړیوال اقتصاد کې ازاد اقتصادي زونونه د سوداګرۍ په پراختیا، پانګونې او اقتصادي وده کې اساسي رول لري. دا زونونه هغه ځانګړې اقتصادي سیمې دي چې د سوداګرۍ، صنعت او ټکنالوژۍ د پرمختګ له پاره ځانګړې اسانتیاوې، معافیتونه او د پانګونې د جلب ځانګړي شرایط لري. د همدې اهمیت له مخې د ازادو اقتصادي زونونو نړیوال سازمان هر کال یو نړیوال کانګرس جوړوي، څو د دې برخې د پرمختګ له پاره د مختلفو هېوادونو تجربې شریکې کړي. سږکال د دې سازمان یوولسم نړیوال کانګرس د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱۰مې تر ۱۲مې نېټې پورې د چین د هاینان ولایت په مرکز کې ترسره شو. دا لومړی ځل و چې دا نړیواله غونډه په چین کې ترسره کېږي، چې د دې هېواد د ازادو سوداګریزو بندرونو او اقتصادي زونونو د پیاوړتیا نښه ګڼل کېږي. په دې کانګرس کې د نړۍ له ۷۰ هېوادونو څخه شاوخوا ۱۵۰۰ استازو ګډون کړی و، چې په کې د حکومتونو چارواکو، پانګوالو، د خصوصي سکتور استازو، د نړیوالو اقتصادي سازمانونو مشرانو او د ازادو زونونو د اتحادیو غړي شامل وو. د کانګرس کوربه د چین د نړیوال اقتصادي پرمختګ اداره وه.

## د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر ګډون

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي د چین د حکومت په رسمي بلنه په دې نړیوال کانګرس کې ګډون وکړ. د هغه ګډون د افغانستان له پاره ځانګړې اهمیت درلود، ځکه افغانستان غواړي له سیمې او نړۍ سره خپلې سوداګریزې او ترانزیټي اړیکې لا پراخه کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې د صنعت او سوداګرۍ وزیر په خپله وینا کې د ازادو اقتصادي زونونو اساسي رول ته اشاره وکړه او ویې ویل، چې دا زونونه د اقتصادي ودې، د سوداګرۍ د پراختیا او د دوامدار پرمختګ د لاسته راوړلو لپاره ډېر مهم دي. محترم نورالدین عزیزي ټینګار وکړ، چې د ازادو زونونو د بریالیتوب له پاره درې فکتورونه مهم دي.

۱ـ د ډیجیټلي زیربناوو پراختیا

۲ـ د خصوصي سکتور پیاوړتیا

۳ـ سیمه ییزه همغږي او همکاري

د صنعت او سوداګرۍ وزیر زیاته کړه، چې د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د سیمه ییزو او نړیوالو همکاریو د پیاوړتیا له پاره ځانګړي پروګرامونه لري او د نړیوالو سازمانونو رول په دې برخه کې خورا مهم دی.

## د کانګرس موخې او اجنډا

د درې ورځني کانګرس اجنډا ډېره پراخه وه. د کلیدي ویناوو ترڅنګ په کې ګردي مېزونه، د مشرتابه پروګرامونه او د تجربو د تبادلې ناستې ترسره شوې. د غونډې مهم ویناوال د چین د نړیوالې پانګونې شورا رئیس، د نړیوال سرک اتحادیې عمومي منشي او د کار نړیوال سازمان د دوامدارو تصدیو رئیس او نور وو. د ازادو زونونو تولنیز او اقتصادي رول، د دوامدار پرمختګ موخې او پانګونه د یاد کانګرس مهم موضوعات وو. د چین د هاینان ازاد بندر د یوې

نړیوالې ښېلګې په توګه یاد شــو، ځکه دا بندر د چین د یــو کمر بند یوې لارې (بي آر آی) یوه مهمه کړۍ ده او مهم اقتصادي ارزښت لري.

## د افغانستان له پاره د فرصتونو څرک

په دغه کانګرس کې د افغانســـتان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ د وزیر نورالدین عزیزي ګډون د افغانســـتان د اقتصـــاد له پاره یو مهـــم فرصت ګڼل کېـــږي. په دغـــه کانګرس کې د افغانســـتان ګډون کولـــی شي د هېـــواد له پـــاره د نـــوې ټکنالوژۍ، اصلاحاتو او نړیوالو تجربو د ترلاســـه کولو یوه دروازه پرانیزي. د افغانســـتان له پاره مهمه ده چې د چین بازارونو ته لاسرسی زیات کړي. چین کولی شي چې د ټکنالوژۍ په برخه کې له افغانستان سره همکاري وکـــړي. د افغانســـتان صنعتي ســـکټور پراختیا کې همـــکاري وکړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې لا ډېرې پراخه شي. په دې ډول نړیوالو غونډو کـــې افغانســـتان کولـــی شي چې د نـــړۍ بریالۍ اقتصادي تجربې ترلاســـه او زده یـــې کړي او بیا یې افغانستان ته را انتقال او دلته یې پلي کړي.

## د کانګرس پای او راتلونکی کوربه هېواد

د کانګرس وروستۍ ورځ عمومي غونډې او انتخاباتو ته ځانګړې شـــوې وه. د ازادو زونونو د نړیوال ســـازمان د مدیره پلاوي له پاره نوي غړي وټاکل شـــول او یو شمېر مهمې پرېکړې تصویب شوې. په وروستیو مراسمو کې د چین هاینـــان ولایت والي هم ګـــډون وکړ او د دې نړیوالې غونډې د ترسره کېدو له امله یې خوښي

وښـــوده. هغه وویل چې دا کانګرس د نړیوالو تجربو د تبادلـــې او د اقتصادي یـــووالي د پیاوړتیا له پاره مهم فرصـــت برابـــروي. د پرېکړه له مخـــې د ۲۰۲۶ کال راتلونکی نړیوال کانګرس به په پاناما کې ترسره شي. دا اعلان د دې نښـــه وه چې نړیوال سازمان غواړي خپله همکاري او د تجربو تبادله له چین نه وروســـته لاتینې امریکا ته وغځوي.



## د افغانستان له پاره د کانګرس ارزښت

د هاینان د ازادو زونونو تجربه افغانستان ته دا پیغام ورکوي چې د اقتصادي ودې له پاره د ځانګړو زونونو جوړول یوازې د لویو هېوادونو ځانګړتیا نه ده. افغانستان کولی شي د خپلو جغرافیایي ځانګړتیاوو، طبیعي سرچینو او ترانزیټي موقعیت له امله د سیمه ییزو ازادو اقتصادي زونونو له لارې نړیوالو بازارونو ته ننوځي. د بیلګې په توګه، د حیرتان، تورغونډۍ او سپین بولدک په څېر سیمې د ازادو زونونو د جوړېدو له پاره ډېر مناسب دي. دا زونونه کولی شي د ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د اسانتیا، د محصولاتو د پروسس او د پانګونې جذب کې مهم رول ولوبوي. که د افغانستان اسلامي امارت د ازادو اقتصادي زونونو د قانوني، تخنیکي او اداري بنسټونو د پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي، نو دا سکتور به د هېواد د صادراتو د زیاتوالي، د وارداتو د کمېدو او د بېکارۍ کچې د کمېدو یوه مهمه وسیله شي.

## د کانګرس پای

د هاینان نړیوال کانګرس د نړۍ د ازادو اقتصادي زونونو تر ټولو مهمه غونډه وه، چې په هغې کې د افغانستان ګډون د یو مثبت پرمختګ نښه ده. د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي وینا او پر ډیجیټلي پراختیا، خصوصي سکتور او سیمه‌ییزې همکارۍ د هغه ټینګار د افغانستان د اقتصادي راتلونکې له پاره واضح لید وړاندې کړ. ازاد اقتصادي زونونه کولی شي د افغانستان د اقتصادي ودې، د پانګونې جذب او نړیوالې سوداګرۍ د پراخېدو لامل وګرځي. دا هغه فرصت دی چې افغانستان باید ترې سالمه استفاده وکړي. په پای کې ویلی شو چې د ازادو اقتصادي زونونو نړیوال کانګرس نه یوازې د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ یو چتر دی، بلکې د نړۍ د اقتصادي ثبات او دوامدار پرمختګ له پاره یو ګډه هڅه ده. افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت او اقتصادي فرصتونو له مخې کولی شي په دې نړیواله شبکه کې فعاله ونډه ولري او د خپلو خلکو د سوکاله راتلونکي لاره اواره کړي.



# رشد صنعت سیاحت

نجیب‌الله مایار

در این مقاله روی افزایش سفر سیاحان خارجی به افغانستان، فرصت ها و فواید آن در رشـــد اقتصادی افغانســـتان و راه های رشد این صنعت بحث شده است.



## مقدمه

افغانستان یک کشور باستانی است که تاریخ طولانی، آثار تاریخی، طبیعت زیبا، مناظر دیدنی و فرهنگ غنی دارد. پس از چند دهه جنگ و اشغال، اکنون در سراسر افغانستان امنیت تأمین شده و امارت اسلامی تلاش می‌ورزد تا از طریق توسعه صنعت سیاحت، اقتصاد کشور را تقویت کند. افغانستان برای رشد و پیشرفت صنعت سیاحت فرصت‌های بسیار خوبی دارد که در صورت توجه به آن، بدون تردید می‌تواند نقش مهمی در شگوفایی اقتصادی کشور ایفا نماید. بر اساس ارقام رسمی، در شش ماه گذشته سال جاری خورشیدی، نزدیک به پانزده هزار سیاح به افغانستان سفر کرده و از ولایات مختلف کشور دیدن نموده‌اند. در چهار سال اخیر، شمار سیاحان خارجی که به کشور سفر می‌کنند، هر سال رو به افزایش است. در این نوشته، درباره وضعیت کنونی ورود سیاحان خارجی، فرصت‌های موجود، و چگونگی توسعه بیشتر این صنعت صحبت خواهیم کرد.

## افزایش رفت‌وآمد سیاحان خارجی به افغانستان

بر اساس ارقام اداره ملی احصائیه و معلومات، در شش ماه اول سال ۱۴۰۴ خورشیدی، رفت و آمد ۱۴ هزار و ۸۲۹ تبعه خارجی از طریق میدان های هوایی و بنادر زمینی کشور ثبت شده است. در این مدت، ۸ هزار و ۹۶ تبعه خارجی وارد کشور شده‌اند و ۶ هزار و ۷۳۳ تن دیگر از کشور خارج گردیده‌اند. بر بنیاد معلومات ثبت شده، از میان افرادی که وارد کشور شده‌اند، ۷ هزار و ۹۷۵ تن از طریق بندرهای زمینی و ۱۲۱ تن از طریق راه هوایی وارد افغانستان شده‌اند. از این میان، ۱ هزار و ۳۱۵ تن برای دیدار از اماکن تاریخی و باستانی و ۶ هزار و ۷۸۱ تن دیگر برای کار یا تحصیل به افغانستان آمده‌اند. طبق این ارقام، بیشترین اتباع خارجی از طریق بندر نیمروز (۵ هزار و ۴۶ تن) وارد کشور شده‌اند. پس از آن، ۸۰۵ تن از طریق میدان هوایی و بنادر هرات، ۵۲۴ تن از طریق بندر تورخم، ۳۵۰ تن از طریق بندر حیرتان و میدان هوایی بلخ و ۳۲۶ تن از طریق بندر





آقینه فاریاب وارد افغانســـتان گردیده‌اند. هرچند اداره ملی احصائیه و معلومات مشـــخص نکرده است که این سیاحان بیشتر به کدام ولایات سفر کرده‌اند، اما ولایاتی چون بامیان، غزنـــی، بلخ، هرات و نورســـتان به دلیل داشتن آثار و اماکن تاریخی، باستانی و مناظر طبیعی، همه‌ســـاله از مقاصد محبوب سیاحان خارجی به شمار می‌روند. ورود و خروج سیاحان خارجی به افغانستان هر سال نسبت به ســـال پیش افزایش می‌یابد. به‌گونه‌ای نمونه، بر اساس معلومات همین اداره، در سال ۱۴۰۳ خورشیدی، رفت‌وآمد حدود ۳۸ هزار تبعه خارجی ثبت شـــده بود. در آن ســـال، ۱۸ هزار و ۸۴۶ تن سفر کرده بودند که از میان آن‌ها ۱۸ هزار و ۳۹۲ تن از طریق زمین و ۴۵۴ تن از راه هوا وارد افغانســـتان شده بودند. طبق همیـــن معلومات همچنین در ســـال ۱۴۰۳، ۲ هزار و ۷۲۱ تبعـــه خارجی بـــرای بازدید از اماکـــن تاریخی و باستانی و سایرین برای کار، ترانزیت یا اهداف دیگر وارد کشور گردیده بودند.

## صنعت سیاحت؛ فرصت‌ها و فواید آن

افغانســـتان با داشتن مناطق باســـتانی و آثار تاریخی فراوان، فرصت‌های بســـیار خوبی برای جذب سیاحان دارد. منار جام، مساجد، قصرها و زیارتگاه‌هایی که در دوره‌های مختلف تاریخی در ولایات مختلف ســـاخته شده‌اند و همچنین آثار فرهنگی، از جمله جاذبه‌هایی هستند که برای محققان و باستان‌شناسان کشورهای مختلف اهمیت خـــاص دارند. بســـیاری از آنان برای انجام تحقیقات تاریخی و باستان‌شناسی به این



مناطق سفر می‌کنند. علاوه بر آثار تاریخی و باستانی، زیبایی‌های طبیعی افغانستان نیز بسیار دیدنی و دل انگیز است، اما در گذشته به دلیل اشغال، فرصت مناسبی برای حضور سیاحان خارجی در این مناطق فراهم نبود. اکنون با تأمین امنیت سراسری در کشور، اتباع کشورهای مختلف جهان برای دیدن مناظر طبیعی و زیبایی‌های سرزمین، به ولایاتی چون نورستان، بامیان، پکتیا، بدخشان، تخار، غور، هرات، هلمند و بسیاری ولایات دیگر سفر می‌کنند. جاذبه های تاریخی، فرهنگی و طبیعی افغانستان زمینه خوبی برای رشد صنعت سیاحت فراهم کرده است. سیاحت می‌تواند منبع مهمی از عواید اسعار برای کشور باشد، فرصت‌های شغلی فراوانی برای مردم محلی ایجاد کند و باعث رشد هوتل‌ها، رستورانت‌ها، فروشگاه‌های صنایع دستی و تحایف و سایر فعالیت های اقتصادی گردد. امارت اسلامی برای تسهیل سفر سیاحان، اقداماتی انجام داده است؛ از جمله بهبود سیستم ترانسپورت، تسهیل در صدور ویزه و ارتقای خدمات اقامتی که نسبت به گذشته بهتر شده‌اند. هم اکنون در سراسر کشور امنیت سراسری برقرار است و سیاحان می‌توانند بدون هیچ‌گونه نگرانی امنیتی، به هر نقطه‌ای از افغانستان که بخواهند سفر کنند. البته برخی تبلیغات و شایعات نادرست ممکن است اعتماد سیاحان خارجی را کاهش دهد، اما با ایجاد محیط امن‌تر، راه‌های بهتر، خدمات مطلوب‌تر و تسهیلات بیشتر، می‌توان صنعت سیاحت را بیش از پیش گسترش داد و آن را به یک منبع مهم و اساسی برای رشد اقتصادی کشور تبدیل کرد. ایجاد هوتل‌های معیاری، سرک‌ها و وسایط نقلیه مناسب، رستورانت‌ها و راهنمایان مسلط به زبان‌های خارجی، تسهیل در پروسه صدور ویزه، انتشار و ثبت اطلاعات دقیق درباره مناطق مختلف افغانستان، و فراهم‌سازی سایر خدمات و امکانات، می‌تواند موج جدیدی از سیاحان را به کشور جذب کند. علاوه بر این، حفاظت از آثار تاریخی، تأمین امنیت مناطق گردشگری، همکاری با نهادهای بین‌المللی برای رفت‌وآمد امن سیاحان،

تقویت زیربناها، ساخت و بازسازی جاده‌ها، هوتل‌ها و میدان های هوایی، بهبود سیستم ترانسپورت، ایجاد ویب‌سایت‌های اطلاعاتی به زبان‌های خارجی، تبلیغات و بازاریابی بین‌المللی، معرفی زیبایی‌های افغانستان در رسانه‌های جهانی، دعوت از سیاحان مشهور، حضور در نمایشگاه‌های بین‌المللی، حفاظت از میراث فرهنگی، آگاهی‌دهی به مردم محلی، استفاده از منابع محلی و حفظ محیط زیست از جمله اقداماتی است که در صورت عملی شدن، می‌تواند صنعت سیاحت افغانستان را به‌صورت چشم‌گیری توسعه دهد.

## نتیجه گیری

اگرچه شمار سیاحان خارجی در افغانستان هنوز هم در مقایسه با کشورهای دیگر منطقه قابل مقایسه نیست، اما ارقام سال‌های اخیر نشانه‌ای از یک تغییر مثبت است. تأمین امنیت سراسری در کشور بیش از هر زمان دیگری زمینه‌ی مساعدی برای رشد صنعت سیاحت فراهم کرده است. اگر در بخش ایجاد زیربناها و فراهم‌سازی تسهیلات پیشرفت صورت گیرد و تبلیغات بین‌المللی به‌خوبی تنظیم شود، سیاحت می تواند به یکی از منابع مهم اقتصاد افغانستان تبدیل گردد و زمینه کار و عاید را برای مردم فراهم سازد. با این حال، این پیشرفت زمانی بیشتر می‌شود که توجه لازم به حفظ و بازسازی آثار باستانی، تقویت زیربناها و سایر اقدامات حمایتی صورت گیرد. سیاحت در بسیاری از کشورهای جهان منبع مهم عواید است. امارت اسلامی در این بخش اقدامات زیادی انجام داده است، اما اگر در این زمینه گام‌های بیشتری نیز برداشته شود و سکتور خصوصی به سرمایه‌گذاری در این عرصه تشویق گردد، این بخش می‌تواند به یک منبع مهم عایداتی برای کشور تبدیل گردد.



## Implementation and Monitoring of the Policy

The draft of the National Minerals Policy has been approved by the Economic Commission. Based on it, relevant legal and supervisory measures, as well as supportive sub-policies, will be developed. The Ministry of Mines and Petroleum will conduct regular monitoring and evaluation of the policy's implementation according to a structured plan.

## Conclusion

The draft of the National Minerals Policy represents an important and comprehensive step toward the standardized extraction, processing, and management of Afghanistan's natural resources. Over the past decades, due to occupation, chaos, and corruption, the country failed to properly utilize this national wealth. The Islamic Emirate of Afghanistan has now taken a significant step toward regulating, developing, and legalizing the mining sector by establishing this vital policy framework. Through its implementation, the country aims to achieve systematic and accelerated economic growth and to increase national revenues.



Badakhshan, Takhar, Panjshir, Ghazni, Kandahar, Herat, Maidan Wardak, and several other provinces. Likewise, significant iron deposits have been found in Bamyan, Badakhshan, Paktika, Parwan, Zabul, Kunar, Logar, Uruzgan, and other provinces. The largest iron mine, Haji Gak in Bamyan, is estimated to contain 1.8 billion tons of iron ore. Moreover, large copper deposits exist in Logar, and major mining sites have also been discovered in Herat.

## Need for the Policy

In past decades, due to weak central governance and local autonomy, the extraction of mineral resources was largely conducted illegally. Local powerbrokers exploited mines using non-standard methods, smuggling minerals and diverting revenues into personal pockets. Corruption in contractual processes also facilitated the looting and plundering of the country's mineral wealth.

To ensure standardized extraction and utilization of this national wealth and to direct revenues into the national treasury, as well as to prevent arbitrary practices and corruption, the Islamic Emirate of Afghanistan deemed it necessary to formulate a comprehensive national policy. This policy aims to prevent the loss and smuggling of the country's mineral resources and promote the use of modern technologies for mining operations.

Overall, the existence of a comprehensive framework for the regulation, development, and supervision of the mining sector was deemed essential. Accordingly, the formulation and implementation of the National Minerals Policy was considered a crucial step for the mining sector. The policy provides clear guidelines on the exploration, extraction, processing, and export of minerals.

## Objectives of the Policy

The objectives of the National Minerals Policy are as follows:

1. To ensure the standardized exploration, extraction, and utilization of mineral resources;
2. To attract domestic and foreign investors and facilitate the import of modern mining technologies and equipment;
3. To ensure environmental protection and the health and safety of mine workers;
4. To create conditions for the domestic processing of mineral materials;
5. To train specialized and technical human resources for the mining sector and enhance their capacity.

The Office of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, the Ministry of Finance, the Ministry of Economy, the Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock, the Ministry of Industry and Commerce, the Ministry of Labor and Social Affairs, the Ministry of Information and Culture, the Ministry of Water and Energy, Da Afghanistan Breshna Sherkat (DABS), the National Environmental Protection Agency, the Afghanistan Standards and Quality Authority, and the Afghanistan Chamber of Industries and Mines will cooperate with the Ministry of Mines and Petroleum in implementing this policy.

# NATIONAL MINERALS POLICY:
## VALUE, NECESSITY, AND OBJECTIVES

By: Zahed Khalili



### Introduction

Afghanistan is a country rich in natural resources. It is among the nations whose vast wealth remains buried underground and unextracted due to prolonged conflicts and instability. The country holds significant deposits of precious and semi-precious minerals, the extraction of which could bring about a major transformation in Afghanistan's economic condition.

At present, extraction of mineral resources is of great importance for Afghanistan's economic growth. To ensure the organized extraction and processing of mineral deposits, the Ministry of Mines and Petroleum has drafted the National Minerals Policy, which has been approved by the Economic Commission.

### Value of Afghanistan's Mineral Resources

Afghanistan's abundance in natural resources gives it great economic potential. Proper extraction can transform the country's economic landscape and create favorable opportunities for investment. In the past, little attention was paid to the extraction and investment in these mineral deposits. Over the last four decades, invasions and unrest hindered the exploitation of these resources. However, with the establishment of nationwide security, suitable conditions now exist for investment in the extraction and processing of these deposits.

According to conducted surveys, the estimated value of Afghanistan's mineral resources reaches hundreds of billions of dollars. These minerals include both metallic and non-metallic types such as iron, copper, lithium, uranium, oil, lead, gold, coal, cement raw materials, precious and semi-precious stones, among others.

These mineral deposits are scattered across the country, though certain provinces are particularly known for specific types of minerals. For instance, gold reserves have been discovered in

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**